د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن ( د شیرزاد لیکنه)

۲۵ جون ۲۰۱۴

## جګړې، کړکیچ او ستم،

## ۵۱ میلیونه زیارکښان مهاجر کړي دي

د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو سازمان عالي کمشنرۍ په خپل کلني راپور کې ویلي دي چې د دویمې نړیوالې جګړې راپدیخوا څه باندې ۵۱ میلیونه خلک له خپلو هیوادونو او کورونو څخه د کډوالۍ ژوند ته مخه کړې ده. دا خلک څوک دي او ولې یې د کډوالۍ ژوند پیل کړی دی؟

د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمشنرۍ د راپور له مخې ویل کیږي چې دا میلیونونه انسانان د جګړو او کړکیچونو له امله کډوالۍ ته مجبوره شوي دي. دا میلیونونه انسانان هغه زیارکښه انسانان دي چې د پانګوالو او لوټمارو تر بیلابیلو ستمونو لاندې راغلي دي او ورته له تیښتې او کډوالۍ پرته بله لاره نه ده پاتې شوې.

د دویمې نړیوالې جګړې راپدیخوا د مهاجرینو او کډوالو زیاتیدنه، په ښه توګه ښکاره کوي چې د زیارکښانو ژوند د هرې ورځ په تیریدو له نویو ګواښونو او رنځونو سره مخامخ شوی او لا د رنځونو ډکې ورځې د زیارکښانو مخې ته پر اتې دي.

پانګوالان او سرمایه داران د خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره پر هیوادونو تیری کوي او د هیڅ ډول ستم او جنایت څخه ډډه نکوي. کله پانګوالان په مستقیمه توګه تیری کوي او کله هم له خپلو لاسپوڅو نوکرانو څخه د وسیلې په توګه کار اخلي. په دې وروستیو کلونو کې پر افغانستان، د پاکستان پر قبایلي سیمو، عراق، لیبیا، مالي، سومالیا، سوریه او ... هیوادونو باندې یا خونړي پانګوالو په خپله نیغ په نیغه برید کړی یا یې هم د خپلو چوپړیانو او نوکرانو له لارې جنایت تیز کړی چې دا د وژنې، لوټمارۍ او کډوالۍ لامل شوي دي.

افغانستان هغه ستمځپلی هیواد دی چې څه باندې درې لسیزې کیږي چې زیارکښان یې د کډوالۍ رنځمن ژوند تیروي. همدا اوس نژدې ۵ میلیونه زیارکښه افغانان په بیلابیلو هیوادونو کې د کډوالو په توګه ژوند کوي. بهرنی یرغل، کورنی بیرحمانه جګړې، د امریکاییانو او ناټویي سرتیرو بمبارۍ، د طالبانو انتحار، د تنظیمي ټوپکمارو جنایتونه د دې سبب شوی چې د کډوالۍ لړۍ لا تیزه شي، حتی تر دې پورې چې یوازې په یوه کال کې ۵۰ زره افغانانو ترجیح ورکړې چې په بیلابیلو لارو موندنې سره له هیواده ووځي.

تر هغه چې ستم، جنایت، تیری، یرغل، لوټماري او بربریت وي، د کډوالۍ مخه نه نیولی کیږي، تر هغه چې ښکیلاک وي او وژنه وي، تر هغه چې زبیښاک وي او چپاول وي، زیارکښان به د کډوالۍ ژوند تیروي. کډوالي یوازې هغه وخت له منځه ځي چې نه ستم وي، نه جنایت، نه ښکیلاک او نه زبیښاک.